مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د جون ٦مه | ۷۲۷مه ګڼه

# د امریکا نوې لوبه او د جګړو دوام؛

## افراسیاب خټک: امریکا په سیمه کې د جګړو د دوام لپاره پراخ پلانونه لري




۳

### د سولې نامعلوم برخلیک او د هدفي وژنو دوام

۲ مخ

### د ملي ارزښتونو کباړ

۲ مخ

### ایجاد اجماع سیاسی در افغانستان یا تلاش برای خنثی‌سازی اعتراض‌های ضد دولتی؟

۳ مخ

## حامد کرزی: ښکېلې خواوې دې د پردیو ګټو لپاره روانه جګړه او ورور وژنه پای ته ورسوي

پخواني ولسمشر حامد کرزي یو ځل بیا ویلي، چې په هېواد کې روانه جګړه پردۍ او تپل شوې ده، له همدې کبله ښکېلې خواوې دې د پردیو موخو لپاره روانه جګړه پای ته ورسوي.

د کرزي له دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې نوموړی په هلمند کې پر ملکي وګړو برید او په کابل کې په دې وروستیو کې پرله پسې چاودنې په کلکو ټکو غندي او هغه یې بشر ضد جنایت بللی دی. نوموړي زیاته کړې، چې په هېواد کې روانه جګړه پردۍ، تحمیلي او د نورو د ګټو لپاره روانه ده او ښه به وي چې ژر تر ژره پای ته ورسول شي. پخواني ولسمشر د جګړې پر ښکېلو لورو غږ کړی، چې د جګړې پر ځای دې د سولې لاره خپله کړي، مذاکرات دې چټک کړي او د خپل هېواد ورانول دې ودروي. هغه ټینګار کړی چې ژر تر ژره دې د سولې بین الافغاني مذاکرات بېرته پیل شي، د سولې خبرې دې کامیابۍ ته ورسول شي او روان ناورین دې پای ته ورسول شي.

کرزی داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې د جګړو، هوایي بریدونو او ماین چاودنو له کبله ملکي مرګ ژوبله ډېره شوې او ښکېلو خواوو هم د سولې پر ځای د جګړې پر ډګر تمرکز ډېر کړی دی.

## ملي امنیت شورا: د بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان سره سم، جګړې د پام وړ ډېرې شوې



۲ مخ

2 017550 139621

## پوهنتون

۴ مخ



### حکیم سنایي پوهنتون

د دغه پوهنتون مسوولین وایي، د محصلینو او استادانو د علمي سويې د لوړاوي په موخه یې د هیواد دننه او له هیواده بهر له ځینو پوهنتونونو سره علمي تفاهم‌لیکونه لاسلیک کړي دي.

## کرنې ریاست: د غزني په بېلابېلو ولسوالیو کې ۷۷ سرې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د غزني د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې د غزني ولایت په ده یک، واغظ، اجرستان، ناور، جاغوري او جغتو ولسوالیو کې یې۷۷ سرې خونې جوړې کړې دي.

د دغه ریاست اړوند د محصولاتو امر انجینر محمد ذکي زیاتوي چې دغه سړې خونې تر ډېره هغو ولسوالیو کې او سیمو کې جوړې شوې چې له دولتي حاکمیت وتلي دي.

د هغه په خبره: «د سړو خونو له ډلې په خواجه عمري کې د کچالو ٦، په جغتو او ناور کې ۵-۵، په اجرستان کې ۱۰ په مالستان کې ۲۱، په جاغوري کې ۷ او واغظ ولسوالۍ کې بیا ۵ دي چې ټولې ۵۹ سړې خونې دي. همدارنګه د پیازو په اجرستان کې ۵، په واغظ کې ۳ او ده یک ولسوالۍ کې ۱۰ دي، چې ټولې ۱۸ خونې کېږي.»

نوموړی زیاتوي، په روان کال کې یې د تازه مېوو د ساتنې لپاره هم پلان جوړ کړی او په وینا یې، د سروې ټیمونه یې په سروې بوخت دي.

## پاکستان:
## د افغانستان په اړه مو پالیسي او موخې بدلې شوې



د پاکستان لومړی وزیر عمران خان وایي چې د ده حکومت په افغانستان کې د ستراتېژیک عمق د څو لسیزو پالیسي او په افغانستان کې د «دوست» حکومت د لرلو تګلاره بدله کړې ده.

په کابل کې د پاکستان سفارت لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې د عمران خان له خولې راغلي: «د افغانستان هر حکومت چې د خلکو له لوري غوره شوی وي او له پاکستان سره معامله کولی شي، پاکستان باید په افغانستان کې د انحصار هڅه ونه کړي.»

نوموړي زیاته کړې: «د پاکستان پخوانۍ پالیسي دا وه، کله چې وېره وه چې که په افغانستان کې د هند نفوذ زیات شي، بیا پاکستان په افغانستان کې د ستراتېژیک عمق غوښتنه کوله، ځکه چې پاکستان نه غوښتل د دښمن او هند تر منځ چخنېي شي، نو دا د پخوانیو حکومتونو پالیسي وه، زما حکومت احساس کوي چې دا زړه پالیسي ده او نوره نه چلېږي. موږ په افغانستان کې ستراتېژیک عمق نه غواړو.»

په کابل کې د پاکستان د سفارت په خبرپاڼه کې وړاندې راغلي: «پر پاکستان له اوږدې مودې راهیسې تور دی چې طالبانو او د هغو مشرانو ته یې پناه ورکړې، په ۱۹۹٦ ز کال کې یې واک ته د هغو له رسولو سره مرسته وکړه او حتی د امریکا په مشرۍ د بهرنیو پوځیانو پر ضد په جګړه کې یې له هغو سره مرسته وکړه.»

په خبرپاڼه کې د عمران خان له قوله راغلي، چې د افغانستان سوله د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره ډېر تړاو لري، چې د روغې جوړې لار هواره کړي او د نورو وینو بهولو مخه ونیسي.

پاکستان داسې مهال په افغانستان کې د خپلې پالیسۍ د بدلون خبره کوي، چې لا هم دغه هېواد په نړیواله کچه د ترهګرو ډلو د ملاتړي په توګه پېژندل کېږي.

تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

# د سولې نامعلوم برخلیک او د هدفي وژنو دوام

د سولې پروسې لـه پخ بهیر سره هممهاله د هېـواد پـه نـږدې ټولو ولایتونو کې شـدیدې جګـړې روانـې دي، چـې هـره ورځ پکـې د جګـړې پـر ښکېلو غـاړو سربېره، ګڼـو ملکي افغانانـو تـه هـم زیانونـه اوړي. پـه ولایتونـو کـې پـر مخامخ جګـړو او نښـتو سربېره، پـه پلازمېنـه کابـل او نـورو لویـو ښـارونو کـې د هـدفي وژنـو خونـړۍ او مبهمه لـړۍ هـم روانه ده، چـې په ښـکاره توګه یې څوک مسـوولیت نـه منـي، خـو دینـي عالمـان، ژورنالیسـتان، د پوهنتـون اسـتادان، د حکومـت ملکـي او نظامـي مامورین او دغه راز سیاسي او مخور شـخصیتونه پکـې پـه نښـه کېـږي. حکومـت د دغـو پېښـو مسـوول طالبـان بـولي، خـو طالبـان بیـا وایـي چـې دغـه ډول وژنـې د دوی کار نـه دی او پـه خبـره یـې، د حکومـت اسـتخباراتي کـړۍ دغـه ډول وژنـې کـوي، ترڅـو پـه دې سره نړیوالـو تـه د افغانسـتان وضعیـت ډېـر ترینګلـی وښـيي، د سولې پـر وړانـدې خنډونـه جـوړ کـړي او دغـه راز لـه افغانسـتانه د بهرنیـو ځواکونـو د وتلـو مخـه ونیسـي.

د دواړو لـورو دا ډول ښکاره ادعاوې ... د دواړو لـورو دا ډول څرګندونـې او یـو پـر بـل د تورونـو او ادعـاوو لګـول د هېچـا پـه ګټـه نـه دي، ښـکېل اړخونـه دې د روانـې جګـړې حساسـیت درک کـړي، ځکـه روانـه جګـړه مطلـق افغانـي شـوې، دواړو غـاړو تـه یـوازې افغانـان پکـې قربانـي کېـږي، بهرنیـو اسـتخباراتي کړیـو هـم د جګـړې د دوام او د وضعیـت د لا پېچلتیا پـه موخه هڅـې ګړندۍ کـړې. افغانان له روان وضعیت سـتړي شـوي، جګـړو تـرې ډېرې قربانـۍ اخیسـتې او د امید سـترګې یـې یـوازې د سـولې خـبرو تـه دي.

د جګـړې ښـکېلې غـاړې دې د افغانانـو دغـو غوښـتنو او هیلـو تـه لبیـک ووایـي، د پردیـو موخـو او ګټـو لپـاره دې جګـړه نـوره نـه اوږدوي، لـه رامنځتـه شـوي فرصـت دې ګټـه پورتـه کـړي، پـر سـولې دې تمرکز ډېـر کـړي. مهمـه دا چـې پـه اوسـنیو دریځـونو دې ډېـر ټینـګار نـه کـوي، بلکـې د سـولې خـبرو د بریـالي کېـدو او یـوې هوکـړې تـه د رسـېدو لپـاره دې پـه خپلو دریځـونو کـې دې نرمښـت راولي، پـه دوحـه کـې دې د سـولې پـه ټپه ولاړ مذاکـرات بېرتـه پیـل کـړي، خپلـې غوښـتنې دې د سـولې پـر مېـز مخامـخ یـو او بـل تـه ووایـي او تـر ټولـو مهمه دا چې نـور دې روانـې افغـان وژنـې او ورور وژنـې تـه د پـای ټکـی کېږدي.

خـو کـه لـه دې سره سره، بیا هـم دواړه اړخونه پـر جګـړې تمرکـز کـوي، یـوه خـوا د واک د دوام لپـاره جګـړه اوږدوي او بله خـوا د واک د ترلاسـه کولو لپاره؛ زیان به یـې یوازې افغانانو تـه اوړي، افغانـان بـه پکـې وژل کېـږي، ټپیـان کېـږي، کورونـه بـه یې ورانېـږي او پـه دې ډول بـه وضعیـت نـور هـم پېچلـی شي. د افغـان جګـړې سـیمه‌ییز او نړیـوال ملاتـړي بـه ډېـر شي او ان د یـوې سـختې کورنـۍ جګـړې د پیـل وېره هم شـته چـې په هغه وخـت کې به یې مدیریت د دواړو لورو له کنټروله وتلی وي او بیـا بـه نړیوالـو زبرځواکونو ته پـه افغانسـتان کـې د مداخلـې بهانـې پـه لاس ورشي.

پـه ټولـه کـې روان وضعیـت د هېچـا پـه ګټـه نـه دی، اوس مـوږ د جګـړې د اوږدېـدو پـر ځـای د جګـړې پـای تـه رسـېدو او د سـولې یـوه معقـول تفاهـم تـه اړتیا لرو، داسـې تفاهم چـې ټـول لـوري پکـې خپـل ځانونـه او حقونه خونـدي حـس کـړي.

# د ملي ارزښتونو کباړ

◀ لیکنه: ولي الله ملکزی

ښـه مـې پـه یـاد دي؛ د ۱۳۷۱ لمریز کال د غوایـي د اتمـې پـه ماښـام؛ زه د فاتحینـو د کاروان پـه څلـورم ډاټسـن کـې لـه څـو عربـو ژورنالسـتانو سره یـو ځـای ناسـت وم. د نیمګـړې مازیګـر وړانګـو د ماهیپـر دنـګ غرونـه پـه غیږ کـې ټینـګ نیولي وو چـې مـوږ پلچرخي تـه ورسـیدو. د پولیګـون لـه سـړې خورو کنـدو څخـه لـږ وړانـدې، د ښـې لاس دیـوال تـه مـې پـام شـو. پـه چېنیـدلي خـط بانـدې یـوه کرښـه لیکل شـوې وه: « قشـنګ، ارزان، بـا دوام ». د برغنـډ برغنـډ سـړک بلـې غـاړې تـه یـوه غنچه ترهیـدلي کابلیـان لـه پلاسـتیکي ګلانو سره ولاړ وو؛ د هـرکلي لاسـونه یـې ښـورول. د مجاهدینـو د تکبیـر نـارو، د مکرویانـو پـه تغمـې تغمـې بلډنګونـو کـې انـګازې کولـې. ناهیـد به شـاید په څلـورم چـت کـې خوشـحاله ناسـته وه چـې د ننګیالیـو د قافلې ننـداره وکړي. پورته مې د اسـمان شـفق تـه وکتل چې لا ژېـړ و، خـو خـبر نـه و چـې ډېـر ژر بـه تـک سـور شي. د چا پـه خـوب او خیال کـې هـم نـه راتلـل چې د ملیشـو سـالار بـه د یـو ښـاغلي لپـاره، خالـد بـن ولیـد او د بـل منـلي لپـاره، فرزنـد عزیـز شي. هیـڅ چا تمـه نـه لرلـه چـې د ولسـمشر او صدراعظـم د ټیمونـو تـر منـځ خونړۍ میـچ بـه د تاریـخ یـوه رسـوا کیسـه شي. مـلا او امـي، ټـول پـه دې بـاور وو چـې د خلـق او پرچـم نظامونـه د دیـن او دینـدارو خـلاف، د دښـمنۍ پـه مورچل کـې ناسـت دي. خـو هیـڅ چـا دا عقیده نـه درلوده چـې ګونـدې د برښـنا سـتنې، دفترونـه او پلچکونـه دې هـم کافـر وي. ورځـې لاتیـرې نـه وې چـې د هیـواد الوتکـې، ټانګونـه او توغنـدي اره اره، د کبـاړ پـه لاریـو کـې مـخ پـه ښـکته بـار شـول. څـو د ګاونډیانـو د ذوب پـه فابریکـو کـې لـه هغـو څخـه کټـارې، پنجـرې او ځنځیرونـه جـوړ شي. کـه د هلاکـو لښـکرو د بغـداد کتابخانـې او جبـه خانـې د فـرات او دجلـې پـه سـیند کـې لاهـو کـړې، نو هم یـې علت څرګنـد دی او هم یـې معلول. خو کابل جـان د هغـه چا د هوس نذرانه شـو چې ځانونـه یـې د نجـات فرښـتې بللـې. د ګوتو پـه شـمار کلونه وروسـته دوی لاړل، نـور راغلـل. پـه ارګ کـې د کوچنـو پـه ځـای توشـکونه هوار شـول، دفـتر داري پـه انډیوالـۍ واوښـته او هرڅـه پـه نـوي خـم کـې رنـګ شـول. لـه هـوا څخـه د کابـل د ښـار ځینـې برخـې د ګنجـي سر پـه څیـر او څـه یـې د هیروشـیما د فوټو شـاپ غونـدې ښـکاریدلې. مګـر کـه څوک شـل کاله وروسـته همدا نن شـپه د الوتکـې لـه کړکـۍ لانـدې وګـوري، نو اریـان دریـان بـه شـی چې آیـا دا هماغه کابـل دی، کـه دوبـۍ ده یا اسـتانبول؟ پـه کابـل، فاریـاب او بامیـان کـې وروسـتیو سیاسي غونـډو، د برخـه والـو شـعارونو، ترانـو او د ټوپـک پـه ژبـې د خـبرو سـلیقې وښـوده چـې د نظام ظاهـري پلویـان، د هغـه لـه وسـله والـو مخالفینـو سره چنـدان توپیـر نـه لـري. کـه ملیشـې اوس هـم د جنګـي حرص، ډار او سیاسي بغـاوت ذهنیـت لـري؛ یا پـردې پـالي ملـي ارزښـتونو تـه ارزښت نـه ورکـوي، نـو هرڅـوک پوهیـږي چـې د غـل پـه ږیره خـس دی. عمومـي انګیرنه دا وه چـې زمـوږ نـوی کهـول بـه د ټوپک پـر ځـای د قلـم او د کرکـې پـر ځـای د مینـې او پخلاینـې کلتـور را ژونـدی او پیـاوړی کـړي؛ مګر داسـې برېښـي چې دوی د اساسي قانـون او ملي ارزښـتونو هغـو مـادو او بندونـو تـه ژمـن دي، کـوم چـې د هغـوی له اشـتها سره برابر وي او وجاهـت یـې خونـدي سـاتي.

هیـواد تـه لـه لوېدیـځ څخـه د ګریس بنـدو کارپوهانـو او مشـاورینو دربـس جهازونـه راغلـل. ځینـو وطن‌والـو ګڼلـه چـې دوی خـو د قانـون او اصولـو پـه چاپېریـال کـې روزل شـوي او لوبیـدلي خلـک دي، حتـما بـه دا وطن، بـاغ حرم او د سـیالانو سـیال شي. خو دغه هیلې ورو ورو د شـګو سراب، پیکـه او سرچپـه شـوې. سـتونزه دا نـه ده چـې دوی دوه ګونـی تابعیـت لـري، یـا هـر یـو یـې د ځایـي مامـور لـس چنـده او شـل چنده معـاش اخلي. خبره پـه دې کې ده چې دوی نـه د خپـل ولـس غوښـتنې سـمې درک کـړې، نـه یـې لـه ژورو مذهبـي ریښـو او حساسـیتونو سره ځانونـه اشـنا کـړل. ښـایي زمـوږ د ولـس پـه سـپیره تنـدي کـې بـه د بخـت لیکـې، لـه پیلـه همداسـې کـږې وږې رسـم شـوې وي. د ملت مفهـوم ازلي دی کـه مصنوعي، وچ قومي شـعار دی کـه د پرګنو د عروج او زوال داسـتان؟ دا بحـث ځانګـړې مقالـې تـه پرېـږدو، خـو د ګردې نـړۍ اسـلامپالي، ملت پـالي، لوېدیـځ پالي، غربیـان، شرقیـان، کمونسـتان، عـرب، عجـم، فـارس، تـرک او تتـار ټـول یـوه خولـه دي، چـې «د یـوې ځانګـړې جغرافیـا دننـه، ګډ نـژاد، ګډ کلتور، ګډ مذهـب او ګـډ تاریخ د یو ملـت د هویت بنسـټونه دي. د دوی ملـي بیـرغ، ملـي سرود، ملـي پـولي واحـد، سرحدونـه او وسـله‌وال پـوځ، د هغـوی ملي ارزښـتونه بلـل کیـږي». ملـي ارزښـتونه هغـه اخلاقـي اصول دي چـې د یـوې ټولنـې وګـړي پـه یـو دسـترخوان او یـو نغري راټولـوي. بیـدار ولسـونه خپـل ملـي ارزښـتونه لـه مـادي ګټـو څخه ډېـر لوړ، یـو عاطفـي تـړاو او د خپـل ویاړ سرچینه ګڼـي. پـه غړېدلـو سـترګو مـو ولیـدل چـې د مـادي توپـان سـختو څپېړو زمـوږ د ولـس دواړه مخونه وسـپځل، خو لا ژونـدی دی او د غورځـو پرځـو وړتیـا لـري. ولـې د معنـوي ناوریـن بیـه ډېـره درنـه او جبیـره یـې ناشـونې ده.

کـه ملـي ارزښـتونه مـو کبـاړ شـوي نـه وای، پـه یـوه ورځ بـه د ارګ دننـه دوو جنابانـو د ولسـمشرۍ لـوړې نـه پورتـه کولـې. نـن بـه د ولسـي جرګـې پـه تـالار کـې د هزارسـتان او فدرالېزم نـارې نـه اورېـدل کیدې. د خپـل هیواد سـتر ویاړونـه بـه مـو د ایـران د تمدنـي حـوزې برخـه نـه ګڼلـه. ځوانان بـه مو د اخونـدانو پـه لاس ژونـدي پـه اور کـې نه سـوځېدل. د سـولې په خیرات پسـې به د کعبـې پـر ځـای، د لینن کبیـر مزار ته څـوک نـه تلل او بلاخـره د ملـي بیرغ او ملـي سرود تقـدس به مو پـه دومره کچه کاڼـې نـه تلل کیـده، لکه څومره چې د جهـاد او مقاومـت یارانو پـه خپل دوکان کـې وپلورلو.

کومـې ټولنـې او ولسـونه چې خپل ملي ارزښـتونه کبـاړ کـړي، بیـا دې منتظر اوسي چـې د مچیـو پـر ځـای بـه یـې مچـان چیچـي او د پردیـو کوڅـه ډب سـپي بـه د دوی زمریـان داړي.

# ملي امنیت شورا: د بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان سره سم، جګړې د پام وړ ډېرې شوي



د افغانسـتان د امنیـت شـورا وایـي چـې لـه هېـواده د بهرنیـو ځواکونو لـه وتلـو سره سـم، طالبانـو پـه ټـول هېـواد کـې جګـړې تـه زور ورکـړی، چـې تر دې مهالـه یـې پـر افغـان ځواکونـو ۱۴۵۵ بریدونـه کـړي دي.

د دې شـورا ویانـد رحمـت اللـه انـدړ رسـنیو تـه پـه لیـږلي پیغـام کـې ویلي، چـې د افغـان ځواکونـو پـه دفـاع کـې وسـله والـو طالبانـو تـه درنـه مرګ‌ژوبلـه اوښـتې او پـه وینـا یـې، د ۶۳ بریدونـو او چاودنـو مخـه یـې هـم نیولـې ده.

هغـه زیاتـه کـړې: «طالبانـو لـه امریـکا سره د سـولې لـه تـړون وروسـته، د بیـن الافغانـي خـبرو پـر پرمختـګ د تمرکز پر ځـای جګـړې تـه کار ویلـی. طالبانو ته د افغـان ولـس او بنسـټونو د ویجـاړۍ او تخریـب تـر څنـګ، د خپلـو افـرادو هلاکـت هـم د اندېښـنې وړ نـه دی. د بهرنیـو سرتیـرو لـه وتلـو وروسـته طالبانو پـه ټـول هیـواد کـې ۱۴۵۵ بریدونـه کـړي دي.»

د یادونـې ده چـې لـه افغانسـتانه د بهرنیـو ځواکونـو د وتلـو لـړۍ د تېـرې مې میاشـتې پـه لومـړۍ پیل شـوه، چې ټـاکل شـوې د روان کال پـه سـپټمبر میاشـت کـې بـه بشـپړه شي.

انـدړ زیاتـوي چـې طالبانـو دا بریدونـه پـه ۲۷ ولایتونـو کـې کـړي، چـې تر ډېره یـې زیـان ملکـي وګړو ته اوښـتی دی. د هغـه پـه خبره، پـه دغو بریدونـو کې ۶۳ ملکـي وګـړي وژل شـوي او ۱۲۶ نور یې ټپیـان دي چـې ډېره برخه یې ښـځې او ماشومان دي.

پـه ورتـه مهـال د بشري حقونـو خپلواک کمېسـیون هـم پـه هېـواد کـې د ملکـي تلفاتـو د زیاتېـدو پـه اړه اندېښـنه ښـودلې ده.

د دغـه کمېسـیون مشر شـهرزاد اکبر پر خپلـې ټویټرپاڼـې لیـکلي: «کـه طالبان د ملکـي تلفاتـو مخنیـوي تـه ژمـن وي، بایـد د سـړک غـاړې ماینونو لـه ځـای پر ځـای کولـو څخـه ډډه وکړي».

طالبانـو بیـا تـازه د خپلـو بریدونـو او ملکـي تلفاتـو پـه اړه څـه نـه دي ویلـي، خـو تـر دې وړانـدې یـې دا ډول ادعاوې رد کـړې دي.

ارشاد هنریار؛ بی‌بی‌سی

# ایجاد اجماع سیاسی در افغانستان یا تلاش برای خنثی‌سازی اعتراض‌های ضد دولتی؟

در ماه‌های اخیر و پس از اعلام خروج نیروهای بین‌المللی از افغانستان، این کشور در کنار افزایش خشونت‌ها، شاهد موج تازه‌ای از اختلاف‌های داخلی و حرکت‌های مرکزگریزانه برخی از چهره‌های سیاسی بوده است. دولت افغانستان که بیشتر از پیش به یک تشکیل یک اجماع سیاسی نیاز دارد، از چند ماه به این‌سو تلاش‌ها را برای ایجاد «شورای عالی دولت» جدی‌تر کرده است. شورایی برای ایجاد اجماع سیاسی که بر اساس توافقنامه بین اشرف غنی و عبدالله عبدالله انتظار می رفت در جریان یک‌سال گذشته شکل بگیرد. اشرف غنی یا خودش یا همکارانش با شماری از بازیگران داخلی ملاقات‌هایی داشته‌است. به این امید که با تشکیل شورای عالی دولت رهبران سیاسی منتقدش را با خود همراه بسازد؛ اما کماکان سازهای مخالف با حکومت مرکزی از چند جناح شنیده شده‌است که برخی این رفتارها در واکنش به تصامیم ارگ بوده است.

در آخرین مورد اعتراض چندین روزه هواداران مارشال عبدالرشید دوستم در برابر تصمیم ارگ که داوود لغمانی را به عنوان والی فاریاب گماشته بود، اشرف غنی را وادار به عقب‌نشینی کرد و آقای لغمانی را از فاریاب فراخواند و والی غزنی گماشت.

در روزهای نخست این اعتراض‌ها مارشال دوستم که تازه از سفرهای ترکیه و ازبکستان برگشته بود، در یک تماس تلفونی از شبرغان با معترضان فاریاب صحبت کرد.

او با لحن بسیار تند انتقادها و اتهامات جدی را به حکومت وارد کرد.

مارشال دوستم در بخشی از سخنانش گفت که «انقلاب می‌کنیم و دو سه ولایت را در یک ساعت سقوط می‌دهیم». او به طرفدارانش گفت که چندین کشور و میلیون‌ها ترک‌تبار پشتیبانی‌تان می کند.

دلیل نارضایتی او عملی نشدن توافقنامه ایجاد حکومت مشارکتی بود که در پی کشمکش چند ماهه بین اشرف غنی و عبدالله عبدالله امضاء شد. بر اساس این توافقنامه معرفی ۵۰ درصد اعضای کابینه افغانستان، والی‌ها، نمایندگی‌های سیاسی و ریاست‌های عمومی باید با تایید دو طرف انجام شود. همین بود که معرفی والی آن هم در ولایت فاریاب که خاستگاه حزب جنبش دانسته می‌شود بدون مشوره با سران این حزب، خشم مارشال دوستم را برانگیخت. اعتراض‌ها تا جایی پیش رفت که معترضان با حمل سلاح‌های سبک و سنگین و برافراشتن پرچم «ترکستان جنوبی» در شهر میمنه رژه رفتند و برای دولت چنگ و دندان نشان دادند.

برخی معترضان از اعضای رهبری حزب جنبش ملی افغانستان خواستند تا در ولایت‌های شمال و شمال‌شرق افغانستان دولت فدرالی ایجاد کند. بحثی که همیشه در افغانستان جنجالی بوده و موافقان و مخالفان زیادی داشته است. موافقان نظام فدرالی از جمله عبداللطیف پدرام رئیس حزب کنگره ملی افغانستان در پی این اعتراضی نشست خبری گرفت و از این تصمیم اعلام حمایت کرد. اما مخالفان این طرح را خلاف منافع ملی افغانستان خواندند.

عزیز آریانفر، رئیس پیشین مرکز مطالعات استراتژیک وزارت خارجه افغانستان در سال‌های ۲۰۰۳-۲۰۰٦ و سفیر پیشین افغانستان در قزاقستان (۲۰۰٦-۲۰۰۹) در صفحه فیس‌بوک خود در واکنش به حمل پرچم‌های ترکستان جنوبی از سوی معترضان در فاریاب نوشت: «خطر پانترکیزم را باید جدی گرفت... سوء استفاده پان ترکیست‌ها از جنبش‌های دادخواهانه مردم فاریاب و برافراشتن درفش ترکستان جعلی به اصطلاح جنوبی در خراسان تاریخی و ترکستان خواندن سرزمین خراسان، زنگ‌های خطر را به صدا در آورده است.»

هر چند حزب جنبش برافراشتن این پرچم‌ها را سازماندهی شده نه، بلکه حرکت خودجوش شماری از جوانان می خواند.

از یعقوب ابراهیمی، استاد سیاست‌شناسی در یکی از دانشگاه‌های کانادا ریشه این رفتارها را پرسیدم. به باور آقای ابراهیمی دولت مرکزگرای افغانستان روی جامعه مرکزگریز بنایافته است. بنابراین، هر زمانی دولت ماهیت نامتمرکز و رنگارنگ جامعه را نادیده گرفته با واکنش نیروهای اجتماعی در صورت‌ها و محتواهای متفاوت مواجه شده است. آقای ابراهیمی شعارهای اخیر اعتراضات اخیر در فاریاب را واکنشی به ناتوانی دولت مرکزی در تامین رابطه نهادمند با ولایات و مردمان اطراف افغانستان می‌داند. او می‌گوید: «چنین کنش‌هاپایه‌های مادی ندارند و نمی‌توانند جامه عمل بپوشند. اینها کنشهای سراسری و توده‌ای نیستند و بیشتر در حدود جریان‌های سیاسی که خواست مقطعی از دولت دارند بنا یافته‌اند که به مجرد برآورده شدن آن خواست‌ها فروکش می‌کنند و ناپدید می‌شوند. حیات سیاسی افغانستان یا به حکم تاریخ و یاهم از روی تصادف قسمی پیش رفته که تجزیه‌طلبی در آن امر کریه و ناخوشایندی بوده است.»

آقای ابراهیمی می‌گوید حتی در هنگام جنگ‌های داخلی که کشور عملاً به بخش های تقریباً خودمختار تقسیم شده بود، کسی داعیه تجزیه‌طلبی نداشت چون نه تنها عملی نبود که سبب اتحاد سایر گروه ها شده و به تضعیف مدعی تجزیه طلبی می انجامید. به باور او حالا نیز، حتی آنهایی که پرچم‌های رنگینی را چون سمبول کشور جدید برمی‌افرازند، خود می‌دانند چنین امری عملی نیست. اما این عکس العمل‌ها در ذات خود تلنگری نیز به دولت افغانستان در حال و آینده است که باید بکوشد بجای اتکای محض به سیاست آمرانه، به نهادمندسازی و قاعده‌مندسازی رابطه دولت با جامعه بپردازد. «درصورت رابطه معنادار میان دولت و بافت‌های اجتماعی که مجموعه ای از سازمان‌ها، هنجارها و رفتارهای غیررسمی‌اند، جامعه ممد و حامی نهادها و سیاست‌های رسمی دولت خواهد شد. در غیاب چنین رابطه‌ای، این نیروها همچنان مخل دولت سازی و توسعه سیاسی خواهند بود. دولت‌های هوشیار از رفتارها و انتظارات جامعه ای که بر آن حکومت می کنند می آموزند و سیاست‌های خویش را در همخوانی با خواست‌های جامعه برای رفاه و شگوفایی کشور هماهنگ میکنند. دولت‌های ناآگاه بر طبل سیاست آمرانه می‌کوبند و کماکان ناکام از آب در می آیند. حکومت مرکزی افغانستان متاسفانه اکثراً به سیاست آمرانه توسل جسته که نتیجه آن چیزی جز دولت ورشکسته و جامعه از هم‌پاشیده نبوده است.»

در شش ماه اخیر نیروهای مسلح غیردولتی در مناطق مختلف افغانستان ابراز وجود کرده اند. از فرمانده علی‌پور در وردک گرفته تا محمدعلی صداقت و ذوالفقار امید در دایکندی که نیروهای مسلح را در برابر دولت تجهیز و بسیج کرده اند.

حدود یک ماه پیش در مراسمی که با حضور صدها نفر به مناسبت سالروز پیروزی مجاهدین از سوی دفتر سیاسی احمد مسعود فرزند احمدشاه مسعود قهرمان ملی افغانستان در کابل برگزار شده بود، پرچم‌های حکومت مجاهدین به اهتزار در آمد و سرودملی مجاهدین که در سال‌های اول حکومت به رهبری حامد کرزی سرودملی افغانستان دانسته می‌شد، نیز پخش شد. گذشته از این احمد مسعود گفت در حال شکل دهی مقامت مسلحانه در برابر طالبان است.

مارشال عبدالرشید دوستم نیز هزاران نفر را در شمال افغانستان مسلح کرده است. محمد محقق رهبر حزب وحدت نیز اخیراً در سخنرانی‌ای گفته در حال مسلح‌سازی افرادش است چون به صلح با طالبان باور ندارد.

اما حکمت‌الله اعظمی معاون مرکز صلح و خشونت در افغانستان که نگاه خوشبینانه به سیاست‌های حکومت به رهبری اشرف غنی دارد، به این باور است که بازیگران سیاسی که به جای حمایت موضع دولت از ملیشه‌سازی سخن می‌گویند منافع فردی برایشان مهمتر از منافع ملی است و بیشتر از سوی کشورهای بیرونی حمایت می‌شوند.

به باور آقای اعظمی به هر پیمانه که رهبران سیاسی افغان با هم نزدیک شوند، موقف طالبان ضعیف‌تر خواهد شد. «مردم هم می توانند به رهبران شان فشار بیاورند که در این مرحله مسئولیت شان برای اجماع سیاسی به درستی ادا کنند.»

هرچند چانه‌زنی‌ها روی نهایی‌شدن فهرست شورای عالی دولت از چند ماه به این‌سو جریان دارد، اما نام اعضای این شورا به دلیل اختلاف نظر میان جناح‌های هنوز نهایی نشده است. اینکه پس از تشکیل این شورا که جزئی از توافقنامه سیاسی بین رئیس جمهوری و رئیس شورای عالی مصالحه است، تنش‌های داخلی سیاسی فروکش خواهد کرد یا نه؛ به تعامل دو طرف بستگی دارد. در توافقنامه بین آقای عبدالله و غنی همچنان نکات عملی ناشده بسیاری وجود دارد. از جمله عضویت مارشال دوستم در شورای عالی دولت و شورای امنیت ملی، تعیین اعضای کابینه و والی‌ها «بر اساس قاعده مورد توافق هردو جانب»؛ که عملی نشدن دو مورد اخیر منشاءتنش‌های سیاسی در افغانستان شده‌است و مردم را از ادامه و آینده این تنش‌ها نگران کرده است.

# د امریکا نوې لوبه او د جگړو دوام؛

## افراسیاب خټک: امریکا په سیمه کې د جگړو د دوام لپاره پراخ پلانونه لري




له افغانستانه د ټولو بهرنيو ځواکونو د وتلو اعلان او په دغه هېواد کې د جگړو او نښتو ډېرېدو، په سيمه کې د امريکا د ستراتېژيو او پلانونو په اړه اندېښنې ډېرې کړې دي.

د پښتونخوا وتلي سياستوال افراسياب خټک په خپله يوه تازه خپره کړې مقاله کې ويلي، چې امريکا په سيمه کې د جگړو د ختمولو پلان نه لري او په خبره يې، دغه هېواد غواړي له طالبانو سره د تازه اړيکو پر مټ په ټوله مرکزي اسيا کې ناندرۍ او کشمکشونه رامنځ ته کړي.

د ده په وينا، امريکا نه غواړي په سيمه کې اقتصادي تحرک رامنځ ته شي او په ۲۱مه پېړۍ کې دوی ته نوې ستونزې وزېږي، له همدې امله په پاکستان کې د طالبانو پر مرکزونو او د دغې ډلې پر خونړيو جگړو او بريدونو سترگې پټوي. خټک ويلي، د طالبانو او امريکا د اړيکو نوی باب ښايي په سيمه کې پراخو ستونزو ته لار پرانيزي. افراسياب خټک دغه راز وايي چې له امريکا سره پاکستان او د دغه هېواد استخباراتي اداري هم ملگرې دي او دوی تر شديد څار او پراخو مالي مرستو لاندې طالبانو ته نوي کسان روزي او زرگونه مدرسې يې فعالې کړې دي.

خټک دغه راز ادعا کوي چې په پاکستان کې د طالبانو شاوخوا ۳٦ زره مدرسې فعالې دي، چې هره ورځ ترې لسگونه طالبان فارغېږي او له دې ډلې ډېری يې افغانان دي.

خټک داسې مهال دغه ادعا کوي، چې طالبان وايي دوی د سولې او په افغانستان کې د يوه اسلامي نظام د جوړېدو په لټه کې دي.

افغان حکومت هم د طالبانو جگړه د پاکستان د گټو جگړه بولي.

بلخوا د سياسي چارو کارپوهان بيا وايي چې امريکا په افغانستان کې د خپل ۲۰ کلن حضور پرمهال له دغه هېواد سره تل دوه گونې چلند کړی، چې له همدې کبله افغان جگړه اوږده شوه او اوس امريکا داسې مهال له افغانستان خپل ټول ځواکونه وباسي، چې ياد هېواد تر بل هر وخت نا امنه دی او د نشه‌يي توکو کښت او قاچاق پکې اوج ته رسېدلی دی. د سياسي چارو کارپوه شهزاده مسعود وايي، امريکا او پاکستان تل په افغان جگړې کې خپلې موخې لټولې او تر هغې چې دوی خپلو موخو ته نه وي رسېدلي، جگړې به دوام مومي او افغانان به يې يوازې بيه پرې کوي.

له دې سره جوخت ځينې بهرنۍ رسنۍ وايي چې له افغانستانه د نړيوالو ځواکونو له وتلو وروسته پاکستان په افغانستان کې د خپل نفوذ د پراخوالو هڅې پيل کړې دي.

نيوزويک مجلې ويلي چې پاکستان لا هم په افغانستان کې د خپل نفوذ له پراخولو لاس نه دی اخيستی او پرله پسې هڅې کوي چې له خپلو ملاتړو سره په همغږۍ د ځواکونو تر وتلو وروسته رامنځته شوې تشه په يو ډول نه يو ډول ډکه کړي. مجلې زياته کړې چې پاکستان اوس تازه داسې هڅې پيل کړې چې د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته په افغانستان کې د خپلې پښې ځای ټينگ کړي او دا ښکاره خبره ده چې دا هېواد په يوازې ځان دا چاره نه شي تنظيمولی، نو ځينې سيمه‌ييز ملاتړي به هم ولري.

په افغانستان او سيمه کې د امريکا د نويو پلانونو په تړاو دا څرگندونې داسې مهال دي، چې د افغانستان د سولې پروسه ټکنۍ شوې، خو جگړې د ډېريو ولايتونو تر مرکزونو را رسېدلې دي.

# حکیم سنایي پوهنتون

حمیدالله حمیدي




حکیم سنایي پوهنتون چې په بغلان ولایت کې موقعیت لري، په ۱۳۹۱ کال کې یې پر فعالیت پیل کړی دی. د حکیم سنایي پوهنتون د ساینس پوهنځي رییس ښاغلي خالص شریفي وویل، دوی د پیل پر مهال درې پوهنځي معالجوي طب، حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد درلودل چې د دوو یا دریو کلونو په تېرېدو یې قابلګي او لابراتوار پوهنځي هم رامنځته کړل. د نوموړي په خبره، په ۱۳۹۴ کال کې یې د خپلو پوهنځیو په دوام ساینس پوهنځی چې پنځه ډیپارټمنټونه لري، هم رامنځته کړ.

د ښاغلي شریفي په وینا، د حکیم سنایي پوهنتون د پوهنځیو ډیپارټمنټونه په دې ترتیب دي: ساینس پوهنځی یې د بیولوژي، کېمیا، فزیک، ریاضي او کمپیوټر ساینس ډیپارټمنټونه لري. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې د اداري او ډیپلوماسۍ او قضا او څارنوالۍ ډیپارټمنټونه او اقتصاد پوهنځی یې مالي او پولي ډیپارټمنټ، قابلګي پوهنځی یې عمومي ډیپارټمنټ لري او معالجوي طب پوهنځی یې هم عمومي لوستل کېږي.

ښاغلي شریفي وویل، دوی ټول ۲۵۰۰ محصلین لري چې له دې ډلې یې شاوخوا ۴۰ سلنه ښځینه محصلینې او پاتې نور یې نارینه محصلین تشکیلوي.

نوموړي زیاته کړه، حکیم سنایي پوهنتون تر دې دمه په پنځو دورو کې د ۱۰۰۰ په شاوخوا کې محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

ښاغلي شریفي همدا راز زیاته کړه، دوی د ځینو ستونزو له امله تر دې دمه د ماسترۍ پروګرام نه لري؛ خو هڅه کوي چې په نږدې راتلونکي کې په حکیم سنایي پوهنتون کې د ماسترۍ پروګرام هم پیل کړي.

د حکیم سنایي پوهنتون یاد مسوول په خپلو خبرو کې وویل، دوی خپلو محصلینو ته په ځانګړي چوکاټ کې تخفیف وړاندې کوي، داسې چې د دولت لخوا ورپېژندل شوو محصلینو ته په خپله سمیستر وار فیس کې چې ۱۵۰۰۰ افغانۍ دی، تر ۵۰۰۰ افغانیو پورې تخفیف ورکوي. پر دې سربېره، د شهیدانو او معلولینو او د دولتي او نظامي برخې کارکوونکو لکه سرتېرو او عسکرو ته هم تر ۵۰ سلنه پورې تخفیف وړاندې کوي.

ښاغلي خالص شریفي وویل، دوی هر کال په مختلفه کچه نوي محصلین جذبوي، که څه هم شمېر یې په دقیق ډول مالوم نه دی؛ خو دا چې هر کال شاوخوا ٦۰۰ محصلین فارغوي، په همغه اندازه هر کال نوي محصلین هم جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.

د ښاغلي شریفي په وینا، دوی د ورځې په دریو درسي ټایمونو کې خپل محصلین د زده کړو لپاره راغواړي، چې یوه یې سهارنۍ دوره، بله یې له غرمې وروسته او درېیمه یې هم د شپې دوره ده، چې محصلین پکې خپلو درسونو ته حاضرېږي.

ښاغلي شریفي همدا راز زیاته کړه، دوی د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري چې د هر پوهنځي اړوند لسګونه تخصصي کتابونه پکې دي او پر دې سربېره، الکترونیکي کتابتون هم لري چې محصلین کولای شي وخت ناوخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه یې کړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.

د حکیم سنایي پوهنتون د ساینس پوهنځي رییس ښاغلي خالص شریفي همدا راز وویل، دوی په هر پوهنځي کې د ۲۰ او ۲۵ په شاوخوا کې استادان لري، چې ډېری یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لسانس دي.

ښاغلي شریفي وویل، دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ځینو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري، چې له مخې یې ډېری وخت خپل محصلین او استادان د لا نورو زده کړو او د هغوی له تجربو د ګټې اخیستنې لپاره ورلېږي. د نوموړي په وینا، په هېواد کې د ننه د بغلان ولایت له دولتي پوهنتون او ځو نورو شخصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري او له هېواده د باندې یې د هند او تاجکستان هېوادونو له یوه یوه پوهنتون سره علمي تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي، چې پر بنسټ به یې په نږدې راتلونکي کې خپل استادان د ماسترۍ پروګرام لپاره هلته ولېږي او د هغوی په همکارۍ به په حکیم سنایي پوهنتون کې د ماسترۍ پروګرام رامنځته کړي.

د ښاغلي خالص شریفي په وینا، دوی تر دې دمه د خپلو دوو یا دریو دورو فارغو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي ډیپلومونه ورکړي دي او پاتې نورو یې په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو د چارو په برخه کې د ځینو ستونزو او د چارو د ځنډېنې پرمختګ له امله ډیپلومونه نه دي تر لاسه کړي، چې تمه ده په نږدې راتلونکي کې به خپلو ټولو فارغ شوو محصلینو ته د فراغت اسناد وسپاري.

ښاغلي شریفي همدا راز زیاته کړه، دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه، ځینې پروګرامونه او اسانتیاوې لري لکه د علمي سمینارونو او ورکشاپونو دایرول، مجهز کتابتون، علمي سفرونه، څېړنیز مرکز، IT، علمي څېړنې او داسې نور هغه امکانات دي چې حکیم سنایي پوهنتون یې د خپلو محصلینو د علمي پانګې د لا بډاینې لپاره وړاندې کوي.

ښاغلي خالص شریفي په خپلو خبرو کې وویل، دوی د پوهنتون د لا بډاینې او پرمختګ لپاره خپل ستراتېژیک پلان لري چې د عملي کېدو په صورت کې به یې پوهنتون او علمي چارې لا ښې او اسانتیاوې به رامنځته کړي. درسي سیستم به یې لا ډېر مجهز شي او محصلینو ته به لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته او په دې سره به د محصلینو د زده کړو سطحه نوره هم لوړه شي.

ښاغلي شریفي زیاته کړه، دا چې د امنیت نشتون د دولتي او خصوصي ادارو او په ټوله کې د هېواد لپاره یو ستر ګواښ دی، نو له دولت څخه د دې پدیدې د له منځه وړلو په برخه کې د لا ډېرې پاملرنې غوښتنه کوي.

د نوموړي په وینا، له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو استادانو ته د ظرفیت لوړونې په برخه کې ورکشاپونه او سمینارونه دایر کړي. د استادانو د علمي رتبو د تر لاسه کولو په برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړي، ښوونیز بورسونه په واک کې ورکړي او لا ډېر امکانات په پام کې ورته ونیول شي څو د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر پرمختګ او لاسته راوړنې ولري.

د دغه موسسې یاد مسوول وایي چې دوی د لوړه زده کړو له وزارت څخه غواړي، څو د تدریس لپاره ورته یو دایمي ځای ورکړي چې په دې سره به وکړای شي په لا ښه ډول خپلو کارونو ته ادامه ورکړي. د هغه په خبره، د یوه دایمي ځای نشتون یې پر کارونو بد اغېز کړی چې له دې ستونزې یې ډېری وخت محصلین هم شکایت کوي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پیښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه

#### راتلونکې ته نظر




بخت راسره ملګری و او کولی مو شول، چې بل واجپای ولرو. که څه هم هغه د عملي کېدونکو له لوري پر شا تمبول کېده یا زموږ خواته د پرمختګونو قرباني کېده، خو بیا یې هم کولی شول پر استبلشمنټ برلاسی شي. شارات سبحاروال چې سیمې لپاره یې ښې هیلې درلودې، د دغه سیستم د توضیح لپاره د دندې له پای ته رسېدو څو میاشتې وړاندې اسلام‌اباد کې خبرې وکړې. ما ترې د ګجرال دکتورین په اړه پوښتنه وکړه. اجازه راکړئ ووایم، د هغه ځواب چې هر څه و، د مراتبو سلسلې ته به یې زیان نه وای اړولی.

همدا لامل دی، چې موږ له عامه نظره د پټې پروسې یادونه وکړه. په دې کې به هغه کسان هم شامل وي، چې د کوچنیو خو په ورته وخت کې پیاوړو ګامونو، په اړه فکر کوي چې سیستم ته زیان اړوونکي نه وي. زما د خوښې لاره د نخبه ګانو د شورا جوړول دي. دا شورا باید له داسې کسانو جوړه وي، چې زغم ولري، محتاط وي او په مناسب وخت کې مناسبې خبرې ته د غوږ ایښودو وړتیا ولري.

دولت: پیټر جونز موږ ښې خوا ته سوق کړي یوو او په ورته وخت کې خپله هم په سم لوري روان شوي. د دواړو خواوو د استخباراتو درې مخکیني افسران دلته یو ځای ناست دي او څه ستونزه سره نه لري. دوی خپلو خواوو ته پیغامونه لېږدوي او دوی دد غه کار وړتیا او ځواک لري.

زما وړاندیز دا دی، راځئ دا شمېر دوو ته راټیټ کړو او د پیټر جونز لپاره د ترسره کولو پر ځای یې د اجیت دوال یا جنرال جنجوعه تر نظر لاندې ترسره کړو.

راځئ کراره یې پیل او لومړی هغو مهمو مسایلو ته رسېدګي وکړو، چې دغو ښاغلیو ته د منلو وړ وي. که په کومه برخه کې پرمختګ کېږي، هغه دې رامخ ته او یا لومړیو وزیرانو ته وړاندې کړای شي.

دورانی: دا قطعاً د پرمختګ ښه، خو یوه لار ده. زه موافق یم، چې کله وګرځو، کولی شو دا پیغام خپلو اړوندو غیر دولتي فعالانو ته ولېږدوو. امکان یې شته دی.

دولت: زه نه وایم، چې دا ممکن دی، وایم دا داسې شونی کار دی، چې په څېړلو او کار ارزي.

دورانی: د باور وړ مانا دا ده، چې اجیت دوال ته د اعتبار وړ وي.

دولت: اجیت دوال ته د باور وړ کسان هغه دي، چې اجیت دوال ښایي باور پرې ولري.

دورانی: او جنجوعه هم داسې دوه کسان ګوماري، چې باور پرې ولري. باوري یم، چې له هغو څخه به یو احسان وي. خوشاله به شم، که زما نوم هم په کې راشي، خو هغه به نور کسان رامخ ته کړي.

دولت: چې له دواړو خواوو یې له غیر دولتي فعالانو سره پیل کړو او دواړو خواوو کې دوه دوه بریدمنان هم وي، دوی په کراره کراره کولی شي، د هرې برخې کارپوهان ځان سره اضافه کړي. دواړو هېوادونو کې د متخصصینو او کارپوهانو کمی نشته.

دورانی: ډېر زیات دي.

۳۱

**د جاسوسانو شورا**

سېنها: استخباراتي سازمانونه په «خړو» سیمو کې فعالیت لري. نورو دولتي ځانګو (باید) او (نه باید) تعریف کړي دي. ستاسې په اند دا کار د استخباراتي همکاریو لپاره څنګه دی؟

دولت: موږ وخت ناوخت سره خبرې کوو، خو ولې هغه له نورې نړۍ سره د خبرو په څېر دوامداره او سازماني نه کړو؟ کله چې له ګاونډیو او په ځانګړې توګه پاکستان سره مسایل لرې، نو ولې ورسره خبرې ونه کړې؟

دوی هم د ترهګرۍ له سترې ستونزې سره لاس او ګرېوان دي، چې پخپله د همکاریو یا لږ تر لږه د سازمانونو ترمنځ د اړیکو د اړتیا ښکارندویي کوي. ځکه کله چې سره کېنئ، لومړنۍ موضوع چې تاسې وایئ راځئ خبرې پرې وکړو، ترهګري ده. پوښتنه به دا وي، چې ښه نو تاسې یې پر وړاندې څه کول غواړئ؟ که قضیه همدا وي، نو ولې موږ دا کار په منظم ډول ونه کړو؟ څوک به یې توضیحات ورکړي، خو اړیکې کولی شي، چې مسایل ساده او اسانه کړي.

**دوام لري...**

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۱۵ |
| € | ۹٤،٤۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱،۷۰ |
| £ | ۱۰۹ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# چطور با ترس از شکست مقابله کنیم؟

**الناز طرزمنی**

ترس از شکست واکنش دفاعی ذهن است برای محافظت از ما در مقابل تهدیدهای «درک‌شده». ذهن ما برای محافظت‌مان از هر تهدید عینی و فیزیکی مانند حیوانات وحشی طراحی شده است. همان کارکردی که در برابر شیر جنگل از ما محافظت می‌کند، هنگام رویارویی با ریسک و خارج‌شدن از دایره‌ی امن‌مان واکنش نشان می‌دهد، مانع عمل‌کردن می‌شود و ما را محدود می‌کند. نکته اینجاست که عملکرد مغز ما برای مقابله با تهدید در جداسازی تهدیدهای فیزیکی از تهدیدها و مخاطرات «درک‌شده» چندان خوب نیست. ترس از شکست واکنشی دفاعی است که همیشه نتایج مثبتی به همراه ندارد! در این مطلب به شما می‌گوییم چطور با ترس از شکست مقابله کنید.

در دوران مدرسه، مربی ورزش ما که معلمی مادرزاد بود در قالب قواعد و تمرین‌های ورزشی، به ما درس زندگی می‌داد. ما باید برای نخستین بار، یک حرکت جدید هاکی را که حتی برای حرفه‌ای‌ها هم دشوار بود، تمرین می‌کردیم. ما که می‌خواستیم خودی نشان بدهیم، با احتیاط تمام تلاش‌مان را کردیم و بدون اینکه زمین بخوریم، حرکت را انجام دادیم. اما در پایان کار مربی راضی نبود. «یک بار دیگه!» واکنش او بود. به‌نظر او کار ما اشتباه بوده، زیرا می‌خواستیم آن را بی‌نقص انجام دهیم! و اگر زمین نخوردیم یعنی به‌اندازه‌ی کافی تلاش نکرده‌ایم. دفعه‌ی بعد همه‌ی ما زمین خوردیم.

هدف این بود که فراتر از توانایی‌هایمان برویم و ما این‌کار را کردیم، در نتیجه افتادیم و نقش زمین شدیم. با گذر زمان هنوز هم زمین می‌خوریم اما متوجه پیشرفت‌مان می‌شویم. در آغاز کار، ترس ما از شکست، مربی‌مان را تحت‌تأثیر قرار نداد، زیرا شکست واقعی درجا زدن و پیشرفت نکردن است. «دایره‌ی امن» تنها یک عبارت نیست؛ تلاش برای گذر از مرزهای آن، محرک‌های عصبی سیستم تهدید را فعال می‌کند. دایره‌ی امن شما به‌طور ذاتی مرزهای تحریک‌کننده‌ی این سیستم را تعیین می‌کند. درون دایره احساس امنیت می‌کنید. وقتی تصمیم به خروج از آن بگیرید، هشدار رویارویی با تهدید دریافت می‌کنید.

**مقابله با ترس از شکست**

ذهن ما در روند تکامل و هنگامی‌که دایره‌ی امن ما محدود به قبیله‌مان بود، در محافظت از تهدیدها خوب عمل می‌کرد. آن زمان، مخاطرات و ناشناخته‌ها، تهدیدهایی واقعی برای امنیت ما بودند. امروزه مخاطرات نه امنیت فیزیکی، بلکه امنیت احساسی ما را تهدید می‌کنند. با این حال واکنش ما هنوز یکسان است، ترس در رگ‌هایمان سرازیر می‌شود، فلج می‌شویم و نمی‌توانیم فکر کنیم.

با گسترش دایره‌ی امن‌تان حتی به مقدار ناچیز، مرزها و عوامل محرک ترس را بازتعریف می‌کنید و به‌تدریج دایره‌ی امن بزرگ‌تری پیدا می‌کنید. با انجام حرکت ورزشی بدون اینکه زمین بخوریم، در واقع درون دایره‌ی امن‌مان حرکت می‌کردیم. مربی‌مان می‌دانست که ما درون این دایره رشد نخواهیم کرد! هنگامی‌که زمین‌خوردن را به جان خریدیم، مرزهای آسایش‌مان را توسعه دادیم. در واقع شکست به هدف تبدیل شد. افتادن به‌معنای موفقیت بود! ما زمین خوردیم تا بتوانیم پیشرفت کنیم، تا بتوانیم مرزهای دایره‌ی امن‌مان را گسترش بدهیم.

این‌گونه است که می‌توانیم بر ترس‌مان از شکست غلبه کنیم.

**شکست را بازتعریف کنید**

شکست یعنی چه؟ شکست تنها هنگامی به‌راستی شکست است که از آن درس نگیرید. شرکت‌های بزرگ بسیاری از جمله فیسبوک (مانند پروژه‌ی Beacon و Poke) بارها شکست خورده‌اند. در حقیقت دلیل موفقیت آنها شکست‌هایشان است. شعاری معروف در میان استارتاپ های «سیلیکون ولی» وجود دارد: «اگر سریع‌تر شکست بخوری، سریع‌تر پیشرفت می‌کنی!» فیسبوک می‌داند بزرگ‌ترین شکست، گذر نکردن از محدودیت‌هاست و اینکه بدون تغییر، خلق کردن و ریسک پذیری دچار مرگ تدریجی می‌شود. مثل معروفی در دنیای فروش و بازاریابی می‌گوید:

هر پاسخ «نه» ما را یک گام به پاسخ «بله» نزدیک‌تر می‌کند.

بیشتر وقت‌ها شکست آن‌چیزی نیست که ما فکر می‌کنیم. پس «نه»ها را با آغوش باز بپذیرید و سعی کنید راه پیشروی را پیدا کنید. «نه»ها روزی به «بله» تبدیل می‌شوند و شما به‌تدریج و بی‌تردید پیشرفت می‌کنید.

**ترس‌تان را بشناسید**

دقیقاً از چه می‌ترسید؟ همه‌ی آدم‌ها از چیزهای جدید، ریسک‌پذیری، تغییر و رشدکردن نمی‌ترسند. ترس از شکست از آنجا ریشه می‌گیرد که ما بدترین نتیجه را تصور می‌کنیم، به‌شکلی غیرمنطقی خواهان نتیجه‌ی بی‌نقص یا به‌شدت نگران ردشدن هستیم. اما به‌راستی بدترین اتفاقی که ممکن است بیفتد، چیست؟ تصور می‌کنید در صورت شروع کسب و کار جدید و شکست آن همه‌چیز را از دست خواهید داد. آیا دوستان و عزیزان‌تان را هم از دست می‌دهید؟ آیا خانواده‌تان دیگر در کنارتان نخواهند بود؟ آیا ابتکار و نیرویی که به آغاز کسب‌وکار ترغیب‌تان کرد، از بین می‌رود؟ خود من پس از راه‌اندازی کسب‌وکارم، در بحران اقتصادی سال ۲۰۰۸ همه‌چیز را از دست دادم. به‌شدت بدهکار و بیکار بودم؛ آن هم در بدترین شرایط بازار کار پس از رکود اقتصادی دهه‌ی ۱۹۳۰. با وجود این شکست، دست از تلاش برنداشتم تا اینکه سرانجام در شرکتی معتبر به‌عنوان سرپرست فروش استخدام شدم. خُب در واقع بدترین تصورات ما هرگز به واقعیت تبدیل نمی‌شوند.

با اعتمادبه‌نفس ترس را کنار بزنید

دنیا به کام کسانی است که با اعتماد به نفس عمل می‌کنند. هیچ‌کس به‌دنبال تماشای شکست شما نیست، اما اگر با اعتمادبه‌نفس و اطمینان گام بردارید، دنیا پشتیبان‌تان خواهد بود. اتفاقات خوبی می‌افتد و زمینه‌ها و فرصت‌های مناسب آشکار می‌شوند. البته فرهنگ‌های مختلف، نگاه متفاوتی به این موضوع دارند. در برخی کشورها وقتی کسی از ایده‌ی نوی خود برای کسب‌وکار صحبت می‌کند، دیگران از ناممکن و خارج از دسترس بودن آن می‌گویند. در مقابل، در فرهنگ‌های دیگر، افراد معمولاً با تحسین و تشویق از ایده حمایت و فرد موردنظر را تشویق می‌کنند و به او کمک از طریق معرفی دوستان و آشنایان و روش‌های دیگر را پیشنهاد می‌دهند.

**گام‌به‌گام پیش بروید**

یکی دیگر از دلایل ترس از شکست تمرکز بر سختی و بزرگی چالش پیش‌رو است. وقتی از پای کوه به قله‌ی اورست نگاه می‌کنید، به‌نظرتان چنان پرابهت می‌رسد که گویی فتح‌ناپذیر است؛ طوفان، سرمای منفی ۵۰ درجه و محیط سخت و خشک را هم اضافه کنید. با این حال صدها نفر از جمله کوهنوردان غیرحرفه‌ای قله‌ی اورست را فتح کرده‌اند. همه‌ی آنها مسیر را یک‌جور آغاز کرده‌اند: با برداشتن نخستین گام به‌سوی قله. شاید کلیشه‌ای به‌نظر برسد، اما رفتارهای ما تبدیل به عادت می‌شوند. گام‌های کوچک به‌تدریج شما را پیش می‌رانند و پس از مدتی هدف در دسترس خواهد بود.

خیلی ساده، توجهی به ترس نکنید

یکی از راه‌های غلبه بر ترس از شکست این است که به ترس‌تان توجه نکنید. موج‌سوارهای حرفه‌ای به سوی موج‌هایی به بلندی ساختمان ۵ طبقه که نیرویی سهمگین و ویرانگر دارند، شنا می‌کنند. نترسیدن از این موج‌ها ناممکن است. برای مقابله با این ترس فلج‌کننده که باعث می‌شود هیچ‌وقت به سمت این موج‌ها نروند، موج‌سوارهای حرفه‌ای از نگاه‌کردن به نقطه‌ی برخورد اجتناب می‌کنند. ما در زندگی ترس‌های زیادی داریم؛ درحالی‌که می‌توانیم مستقیماً به برخی خیره شویم و بهشان غلبه کنیم، باید نگاه‌مان را از برخی دیگر بدزدیم.

در زمینه‌های دیگر خود را به چالش بکشید

در زمینه‌های دیگر، فراتر از دامنه‌ای که به‌دنبال پیشرفت در آن هستید، خود را به چالش بکشید. می‌دانید چرا ورزش سه‌گانه، دویدن در گل و دو استقامت این‌قدر پرطرفدارند؟ چون مردم دوست دارند محدودیت‌هایشان را پشت سر بگذارند و ببینند چند مرده حلاجند! شما اراده می‌کنید و پیش می‌روید. وقتی با موفقیت به اهداف‌تان در زمینه‌ای خاص دست یافتید، متوجه می‌شوید می‌توانید با به‌کارگیری همان مهارت‌ها و پشتکار در زمینه‌های دیگر هم موفق شوید. وقتی بدانید می‌توانید در دو استقامت شرکت کنید، می‌فهمید می‌توانید با آموزش و نگرشی درست از عهده‌ی مجموعه‌ای از کارهای متنوع دیگر هم بر بیایید.

افراد موفق نترس و شگفت‌انگیز به‌نظر می‌رسند، اما این چیزی است که دیگران می‌بینند. آدم‌های موفق هم در آغاز، معمولی بودند و با ترکیبی از تمرین، تلاش و زحمت به موفقیت دست یافته‌اند. افسانه‌ی آدم‌های نترس خیلی از ما را محدود می‌کند، زیرا باور داریم برای موفق بودن باید نترس و به‌طور ذاتی شگفت‌انگیز باشیم. شجاعت به معنای نترسیدن نیست، بلکه یعنی با وجود ترس‌هایمان، با آنها روبه‌رو شویم و از عمل‌کردن دست نکشیم؛ یعنی خود را به چالش بکشیم، در موقعیت رویارویی با ترس‌هایمان قرار بگیریم و سرانجام با آنها روبه‌رو شویم. ترس برای هر انسانی طبیعی، اجتناب‌ناپذیر و یکی از ویژگی‌های انسانی ما است. ترس در وجود همه‌ی ماست. هیچ‌کس به‌تمامی بدون ترس زندگی نمی‌کند؛ اما برخی یاد گرفته‌اند ترس‌شان را در آغوش بگیرند.

# راپورونه: په بورکینافاسو کې د یوه وسله‌وال برید پرمهال له سلو ډېر کسان وژل شوي

د راپورونو له مخې، د بورکینافاسو د سولهان پر کلي د وسله والو په برید کې تر ۱۰۰ ډېر عام خلک وژل شوي دي.

په سیمې کې یوې سرچینې د فرانس پرېس خبري اژانس ته ویلي، چې وسله والو لومړی د شپې په دوو بجو د هېواد د دفاع د رضاکارانو چې د جهادي ډلو پر ضد د ملکیانو دفاعي ځواک دی او د ملي پوځ ملاتړ کوي، پر مرکزونو برید کړی او وروسته پر کورونو ننوتلي چې یاده مرگ ژوبله یې اړولې ده.



د سرچینې په خبره، په وژل شویو کې د بېلابېلو عمرونو سړي او مېرمنې هم شاملې دي. د یادونې ده چې له ۲۰۱۵ز کال راهیسې کله چې په بورکینا فاسو کې د جهادي ډلو فعالیت پیل شوی، دا تر ټولو خونړی برید دی.

د هېواد د دفاع د رضاکارانو ډله په ۲۰۱۹ز کال کې د بورکینافاسو د پوځ د ملاتړ لپاره جوړه شوه او تر اوسه یې په جگړو کې له ۲۰۰ ډېر غړي وژل شوي دي. دغو رضاکارانو ته د دوو اونیو لپاره پوځي روزنه ورکول کېږي او بیا له امنیتي ادارو سره د کشف، معلوماتو راټولولو او بدرگې کولو کې مرسته کوي.

ځايي سرچینو دغه راز ویلي چې وسله والو په سیمه کې د خلکو کورونو او بازارونو ته هم اور اچولی او ځینې سرچینې بیا د وژل شویو کسانو شمېر تر ۱۰۰ هم ډېر گڼي.

د دغه هېواد چارواکو د دې پېښې له کبله په ټول هېوا کې درې ورځې ماتم اعلان کړی دی. دغه کلی چې برید پکې شوی، له مالي هېواد سره گډه پوله لري، چې وسله والو په دې تېرو څو کلونو کې پکې څو ځله بریدونه کړي دي.

د یادونې ده چې د بورکینا فاسو حکومت له ۲۰۱۵ز کال راپه دېخوا د جماعه نصر الاسلام والمسلمین او په لویې صحرا کې د اسلامي دولت یا داعش ډلې له جنگیالیو سره په جگړه اخته دی. دا جگړې لومړی له مالي سرحد سره نږدې د بورکینا فاسو په شمال کې پیل شوې، خو اوس د دغه هېواد نورو برخو ته هم غځېدلي او په ځانگړي ډول په ختیځ کې ډېرې شوې دي.

په دغه هېواد کې د جگړو له پیل راهیسې له۱۳۰۰ډېر کسان وژل شوي او له یو میلیون ډېر یې د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي.

مسیر
ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د جون ۶مه | ۷۲۷مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤٤ | ٤۲ | ٤٤ | ٤٤ | ۳٦ |
| ۱۹ | ۲٥ | ۲۴ | ۲۹ | ۲٦ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۴ | ماخوستن ۰۸:۴۹

## نړۍ



## راپورونه: په بورکینافاسو کې د یوه وسله‌وال برید پرمهال له سلو ډېر کسان وژل شوي ۵

## بهرنیو چارو وزارت: د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د مهمو پروژو پر سر هوکړه کېږي




د افغانستان او ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیرانو تازه په هرات کې سره کتلي دي او پر مهمو دوه اړخیزو مسایلو یې خبرې کړې دي.

په دې لیدنه کې هوکړه شوې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به د اتو لویو پروژو پر سر توافق رامنځ ته کېږي او د دواړو هېوادونو ترمنځ به اقتصادي، سوداګریزې، سیاسي، امنیتي او فرهنګي اړیکې پراخېږي. حنیف اتمر او رشید میردوف همدا راز په دې لیدنه کې پر افغان سوله هم خبرې کړې او ترکمنستان ژمنه کړې چې د بین الافغاني مذاکراتو کوربه‌توب ته تیار دي.

دوی همدا راز د تاپي پروژې، رېل پټلۍ، برېښنا، د مرمر ډبرو پر صادراتو، سوداګرۍ، ټرانزیټ او د فرهنګي اړیکو په برخه کې د هوکړو پر رامنځ ته کېدو هم بحث کړی او بهرنیو چارو وزارت وایي چې ډېر ژر به د دواړو لورو ترمنځ په یادو برخو کې ځینې توافقات رامنځ ته شي.

دا لیدنه داسې مهال ترسره کېږي، چې د تاپي پروژې کارونه په ډېریو هېوادونو کې بشپړ شوي، خو په افغانستان کې یې لا هم چارې رواني چې په جوړېدو سره به یې زرګونو کسانو ته کاري زمینې برابرې شي.

## راپورونه: د اروپايي ټولنې له هوايي ډګرونو بېلاروسي الوتکې منع شوې




اروپايي ټولنې د دې ټولنې د غړو هېوادونو په فضا کې د بېلاروس د الوتکو تګ راتګ او د دغو هېوادونو په هوايي ډګرونو کې د بېلاروس د الوتکو ناسته منعه کړې ده.

له دې سره جوخت د یاد هېواد د اپوزیسیون یوه مشر چې له هېواده بهر دی، د بېلاروس د حکومت پرضد د لوېدیځوالو له لوري د لا سختو بندیزونو د لګېدو غوښتنه کړې ده.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د اروپايي ټولنې دا پرېکړه د رایان ایر هوايي شرکت د الوتکې د جبري کښېنته کولو او په هغې کې د یوه مخالف خبریال د نیولو په ځواب کې د بېلاروس د حکومت پرضد د لا پراخو جزايي اقداماتو یوه برخه ده.

یادې ټولنې په یوه اعلامیه کې ویلي، دا اقدام عملاً پیل شوی او د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو ټولو هوايي ډګرونو ته د بېلاروس د الوتکو تګ راتګ منع کېږي.

په دغه بندیز کې د نورو هېوادونو هغه هوايي شرکتونه هم شامل دي، چې د بېلاروس د هوايي شرکت سپرلۍ ولېږدوي. د اروپا د هوايي چلند د خوندیتوب اداري هم د تېرې چهارشنبې په ورځ ویلي وو چې د اروپايي ټولنې ټول هوايي شرکتونه دې له بېړنیو شرایطو پرته خپلې الوتکې د بېلاروس له فضا نه تېروي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۷۳۱زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۳ میلیونه او ۴۸۴ زره او ۳۳۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۷۳۱ زره او ۵۴۹ کسان مړه شوي او له ۱۵٦ میلیونو ډېر تړې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۱۹۲ زره او ۷۵۹ ته رسېدلي او ٦۱۲ زره او ۲٦۵ نور امریکایان تړې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۸ میلیونه او ۷۷۵ زره او ۴۴۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱٦ میلیونه او ۸۴۱زره او ۹۵۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۰۱ زره او ۲۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۲۷٦ زره او ۴٦۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

روسیه، برېتانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژوند

## سامسُنګ ارزان بیه ۵جي موبایل خرڅلاو ته وړاندې کوي




سامسُنګ کمپنۍ سږکال خپل د ۵جي ځیرکو موبایلونو بیه ډېره ټیټه کړه او اوسمهال تر ټولو ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل چې ګلکسي اې۳۲ نومېږي او ۲۷۹ امریکایي ډالره بیه لري، خرڅلاو ته وړاندې کوي. خو سامسُنګ کمپنۍ غواړي تر دې هم ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل، ګلکسي اې۲۲، خرڅلاو ته وړاندې کړي. مختلفې معلوماتي سرچینې ادعا کوي چې د ګلکسي اې ۲۲ ۵جي بیه به ۱۸۰ امریکایي ډالره وي او په دې ډول به د سامسُنګ تر ټولو ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل به ۴جي بڼه هم ولري. له ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې ٦,۴ انچه اېل سي ډي ډوله مخپاڼه او شاتنۍ برخه کې درې کامرې ورکړل شوې دي، چې اصلي کامره یې ۴۸ مېګاپکسله وړتیا لري. ګلکسي اې۲۲ ۵جي به د مېډیاټېک کمپنۍ ډېمېنستي۷۰۰ ډوله پروسېسر، ٦ ګېګابایټ رم او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ سره خرڅلاو ته وړاندې شي.

## د پښتورګو د سوخت لاملونه



د پښتورګو یا ګردو سوخت تر ټولو ډېره دردونکې ناروغي ده، چې مختلف لاملونه لري. که چېرته یې درملنه ونه شي، نو ځینې وختونه ګرده هم له منځه وړلی شي. زیاتره وخت د پښتورګو (ګردو) سوخت د میکروبونو د داخلېدو په سبب پیدا کېږي، چې ډېری وخت یې د تشو متیازو د نل یا هم مثانې له لارې داخلېږي. په سیدیتي ژورنال کې په خپره شوې لیکنه کې راغلي، چې د پښتورګو (ګردو) میکروب په یو وخت کې یوازې یو پښتورګی اغېزمنولی شي، خو له زیاتو ستونزو څخه د خلاصون لپاره یې درملنه اړینه ده. راځئ چې د ډاکټر احمد شعبان، چې د پښتورګو متخصص دی، څو مهمې خبرې دلته ولولو: د ګردو د سوخت سببونه: زیاتره وخت میکروبونه د تشو متیازو له نل یا د مثانې له لارې ګردو ته داخلېږي، چې بیا په ګردو کې د سوخت سبب ګرځي. د دې میکروبونو مشهور ډول یې E.coli دی. هغه کسان چې پر شکر ناروغۍ اخته وي د پښتورګو د سوخت خطر یې هم ډېر وي. که څه هم د تشو متیازو د نل ناروغان په خطر کې وي، خو دا ناروغي د نارینه‌وو په پرتله په ښځینه‌وو کې ډېره لیدل کېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank